مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۹/۰۳

# د جمهوریت د سقوط عوامل
## د جنګسالارانو ونډه

(شپږویشتمه او وروستۍ برخه)

### جنګسالاران او د امریکایانو پالیسي

ولسمشر حامد کرزی له اره په دې هڅه کې ؤ چې جنګسالاران له واکه ګوښه کړي له بده مرغه چې په دې برخه کې د ولسمشر واک او ځواک ډېر محدود ؤ، په خپله يې پوځي ځواک نه درلود، بهرنیانو د دې پر ځای چې د ولسمشر او مرکزي حکومت ملاتړ وکړي، له جنګسالارانو يې ملاتړ کاوه، ولسمشر کرزي امریکایي لوړپوړو چارواکو ته د جنګسالارانو له ناوړه کړنو شکايت کاوه. کرزي له ډېر وړاندې وړاندوينه کړې وه چې په هيواد کې د جګړهمارانو جنایتونه د دې سبب کيږي چې خلک له طالبانو سره لاس یو او د حکومت پر وړاندې پورته شي، په دې هکله په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو د ولسمشر بوش ځانګړی استازی افغان توکمه زلمی خلیل زاد ليکي:«جنګسالاري تر دې پراؤ تر تولو ستره ننګونه وه، ډېر وخت به کرزي ما ته د زړه براس ايسته، هغه اندېښمن ؤ چې خلک له ناامنۍ او د جنګسالارانو له ګواښونو پزې ته راغلي دي، کيدای شي [خلک] طالبانو یا هغو کسانو ته ښه راغلاست ووايي چې د سولې او عدالت ژمنې کوي.» (زلمی خلیل زاد: استازی. ژباړن: لطف الله لطف. ۱۷۴مخ)

د امریکا پخواني دفاع وزیر رابرټ ګېټس، د حامد کرزي کرکه له شمالي تلوالې او د تلوالې د له منځه وړلو په اړه د خپلو خاطرو په کتاب کې مالومات وړاندې کړي دي چې وايي:«... **ښاغلي کرزي د کابل په ارګ کې په یوه محرمه ناسته کې له ما څخه وغوښتل چې د شمال جبهې په له منځه وړلو او کمزوري کولو کې مرسته وکړم... کرزي راته وویل: تر ټولو ستر تهديد زما د حکومت پر وړاندې د شمال جبهه ده، نه طالبان.»**

ګېټس زیاتوي:«... هغه وویل **«لېرترلږه د طالبانو په ځواکمن کيدو کې زما لاس خلاص پريږدئ، تر څو وکولی شم له دې لارې ټوپکسالاران له منځه یوسم.»**

ګېټس وړاندې ځي وايي چې **ښاغلي کرزي د خپل دویم ځل حکومت په موده کې په شمال کې د طالبانو ځای پرځای کول پیل کړل.** (کریم پیکار: بررسی وقایع افغانستان، از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۱۴میلادي، ۷۲۲مخ)
که له یوې خوا دغو جهادي قوماندانانو د مرکزي حکومت پر وړاندې بغاوتونه او خپل سرى رواني ساتلي وې نو له بل پلوه د امریکا د (سي، آی، ای) سازمان، دفاع وزارت او نورو امریکایي سیاستوالو همدغه استخدام شوي جهادي قوماندانان د مرکزي دولت پر خلاف حمايه کول او په کلکه يې دفاع ترې کوله او د دوی پر ملېشو يې تکيه درلوده، په داسې حال کې چې همدغه مرکزي حکومت د امریکایانو او غربیانو لهخوا رامنځ ته شوی ؤ.
د امریکا متحده ایالاتو دفاع وزیر، رمزفيلډ پر خپلې دې خبرې ټينګ ولاړ وو چې د دښمنانو سره د مقابلې لپاره د شمال د جنګ سالارانو پر قوت باندې دې تکيه وشي او امریکا خپله ټوله توجه د القاعدې او د طالبانو پاتې شويو کسانو له منځه وړلو ته متوجه کړي. نوموړي حتی نه غوښتل چې د افغانستان پوځ ته وسلې او مهمات ورکړي، ویل يې چې د افغانستان پوځ باید د موجودو زړو وسلو څخه کار واخلي. کله چې کرزي په ۲۰۰۲ز، کال کې له رمزفيلډ څخه وغوښتل چې د جنګ سالارانو څخه د وسلو په اخيستلو کې مرسته وکړي، ده په زغرده ځواب ورکړ چې **جنګ سالاران زموږ ملګري دي او موږ له خپلو ملګرو سره مقابله نه کوو.** (کارټر ملکازیان: په افغانستان کې د امریکا جګړه. ژباړن: عبدالباري جهاني. ۱۴۱مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځير و لولئ

په کابل کې د ملګرو ملتونو د هغه مهال ځانګړی استازی (کای آيډه) په ۲۰۰۲ز کال د رمزفيلډ له خولې، د جنګسالارانو له ډلې څخه د پاچاخان ځدراڼ د آزاد پرېښودلو په هکله د مرکزي حکومت پر وړاندې داسې ليکي:«پښتون جنګسالار پاچا خان ځدراڼ چې د پکتيا استوګن ؤ، کرزي ته يې ګواښ کړی ؤ چې د پکتيا والي يې وټاکي، که نه نو د ده خلاف به کورنۍ جګړه پيل کړي، کزري د هغه له دښمنانو[؟] د پاچا خان د له منځه وړلو غوښتنه وکړه.
کرزي چې کوم ځواک نه درلود نو اړ ؤ له ورته ننګونو سره د مبارزې په موخه پر امريکايانو ډډه ولګوي.
رمزفيلډ دا خبره له بوش او نورو مشرانو سره شريکه کړه، بوش ته يې يو يادښت واستوه.«آيا افغان حکومت اړ دی چې په سياسي او نظامي کچه د پېښو مسؤليت واخلي چې په واک کې پاتې شي او يا پر امريکا ډډه ولګوي؟»
کای آيډه وړاندې وايي: ځواب څرګند ؤ چې کرزی بايد له خپل سياسي هنره ګټه پورته کړي او د امريکا پر نظامي ځواکونو ډېره ډډه ونه لګوي.
رمزفيلډ وهڅول شو چې کرزی د (شيکاګو ډوله) حکومت کولو د هنر زده کولو ته اړتيا لري.
کای ايډه د رمزفيلډ له قوله ليکي:«په ۱۹۶۰ز، کال کې Mayor Richard. Daley په شيکاګو حکومت کاوه، شيکاګو هغه مهال د ځواکونو او بېلابېلو خلکو ځای ؤ، نوموړي به د هر ډول سرکښۍ مخ نيوی په چل او هنر کاوه، چا ته پېسې ورکړه، چا ته يو بل خدمت ترسره کړه. په دې ډول يې حکومت روان کړی ؤ، په دې ډول يې هغوی له بغاوت کولو څخه منع کول. کرزی هم بايد ورته لار چاره زده کړي.»
رمزفيلډ بوش ته په يادښت کې چې لنډيز يې داسې دی ليکي:**«کرزی پر دې پوه کړئ، موږ نه غواړو چې د انګلستان او پخواني شوروي اتحاد په څېر پر خلکو فشار راوړو او خپله ايډيولوژي د برچې پر مټ پرې ومنو!»**[1] (په افغانستان کې د واک پر سر جګړه. ژباړن: سميع الله ايلم. ۳۱۹مخ)
زلمی خليل زاد چې يو افغان الاصله امريکايی دی، د افغانستان د سوکالۍ په موخه يې ډېرې هلې ځلې کړي دي، هغه کوښښ کاوه له ولسمشر کرزي سره د جنګسالارانو د واکونو په کمولو کې مرسته وکړي، ده له کرزي سره په هره برخه کې مرسته کړې ده، نوموړی په افغانستان کې له ايتلافي ځواکونو او امريکايي چارواکو شکايت کوي او په ډاګه وايي:«د جنګسالارانو پر ضد زموږ د پرمختګ پر وړاندې د ايتلافي ځواکونو د ټيټې کچې کسانو او د CIA مامورينو له لوري له ستونزو سره مخ وو، دوی له سيمه ييزو قوماندانانو او جنګسالارانو سره اړيکې وغځولې چې په خپلو سيمو کې يې د بيا رغونې کارونه او لوژيستکي خدمات ترسره کول. د دغو کارونو مخنيوی په ساحه کې ستونزمن وو، له همدې امله ملېشې او جنګسالاران له ځواک څخه برخمن شول.»
خليل زاد زياتوي:«پنټاګون په افغانستان کې له ملېشو سره د جګړې په لومه کې ښکېليدو انديښمن کړی ؤ، دوی نه پوهيدل چې د ملېشو پر ضد ناکمي به زموږ ټول ماموريت له ګواښ سره مخ کړي.» (زلمی خليل زاد: استازی. ژباړن: لطف الله لطف. ۲۶۵مخ)

د جنګسالارانو په اړه له افغان حکومت سره د امريکايانو د نه همکارۍ په هکله له ولسمشر بوش نيولي تر دفاع وزير او نورو دريځ يو ډول ؤ، په دې برخه کې زلمي خليل زاد تر پايه خپلې هڅې کړي دي له بده مرغه چې د ده هڅو پايلې نه درلودلې هغه وايي:«... له ولسمشر بوش سره مې يو بحث درلود، ما ورته وويل چې موږ بايد په راتلونکي کې د ترهګريزو بريدونو د مخنيوي په موخه له افغانانو سره مرسته وکړو چې خپل هېواد باثباته کړو. ولسمشر بوش وويل:**«زلميه! موږ د دې لپاره نه يو تللي چې د دوی ستونزې هوارې کړو.»**
خليل زاد وايي چې ما وويل: موږ تر هغې خپلې ستونزې نه شو هوارولې چې د دوی د ستونزو په هوارولو کې مو مرسته نه وي کړې، ما ورسره مخالفت وښود.
خليل زاد زياته کړه: ما د ويډيو کنفرانس له لارې له [دفاع وزير] رمزفيلډ سره ورته خبرې کړې وې ما په افغانستان کې د سياسي ګامونو او د اداري پرمخ تګ د پروژو په اړه د خپلو پروګرامونو په اړه مالومات ورکول، رمزفيلډ زما خبرې پرې کړې او ويې ويل:**«زلميه! ته بايد د بايسکل له مخکې سيټ څخه کوز شئ»**
رمزفيلډ وړانديز وکړ چې زه بايد افغانان پرېږدم چې د بريا او ناکامۍ په اړه په خپله پرېکړه وکړي.

[1]: افغانانو او نړېوالو وليدل چې په افغانستان کې امريکايانو، له انګرېز استعمار او شوروي اتحاد له جنايتونو هم سختې وحشيانه کړنې تر سره کړې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خلیل زاد لیکي: د رمزفیلډ لهخوا د بایسکل ښیلګي کارولو راپارولی وم، ما په افغانستان کي ځمکني واقعیتونه لیدلي وو
چي ځلور لسیزو جګړو ترخه کړي وو، ما رمزفیلډ ته د افغانانو بد وضعیت ټکی په ټکي وریاد کړ، ورته ومي ویل:
ښاغلی وزیر! هلته بایسکل نه شته... . (هماغه کتاب. ۱۷۸مخ)

دا شان حامد کرزي غوښتل د ټوپکسالارانو پر وړاندي ګامونه پورته کړي خو د هغه مهال د دفاع وزیر رمزفلیډ په
۲۰۰۳ز، کال کي ورته ویلي وو: **نه غواړي (زرغون له زرغون سره جګړه وکړي).** زرغون د امریکا په پوځي
اصطلاح کي خپلو ځواکونو ته کارول کیږي. (رنګین دادفرسپنتا: سیاست افغانستان روایت از درون. ۱۳۳مخ)

خلیل زاد وایي چي کرزی په کابل کي د جنګسالارانو له لوري تنګ شوی ؤ، له ما سره له مشوري پرته هغه پریکړه
کړي وه چي د شېرزي د پوپلزیو د قبیلي د پخواني سیال پر ضد اقدام وکړي، کرزي ګل آغا شېرزی د ښار جوړوني د
وزیر په توګه ټاکلی ؤ او له اوسني وزیر یوسف پښتون څخه یې وغوښتل چي د کندهار د والي په توګه د شېرزي ځای
ونیسي. د کرزي پرېکړي په واشنګټن کي اندېښني راپورته کړې، رابرټ بلک چي تازه د ملي امنیت شورا ته راغلی
ؤ، وویل چي **موږ باید په دې مسئله کې د کرزي ملاتړ ونه کړو** څکه هغه له موږ سره له همغږۍ پرته اقدام کړی دی.
په ورته مهال کي فهیم، شېرزی هڅولی ؤ چي د کرزي خبرې ته پام ونه کړي. (استازی. ۲۳۷-۲۳۶مخونه)
له بوش وروسته د امریکا ولسمشر بارک اوباما هم د بوش حکومت په څېر پالیسي درلوده، «اوباما تر ۲۰۱۱ز، کال
پوري او وروسته له هغي وویل چي **موږ افغانستان ته د دې لپاره نه یو تللي چي دولت جوړ کړو.»** (رنګین دادفرسپنتا:
سیاست افغانستان روایت از درون. ۴۸۷مخ)

د وخت په تېریدو سره حامد کرزي وکړای شول ګل آغا شېرزی او اسمعیل خان په خپله کابینه کي د وزیرانو په توګه
وګماري او جنرال دوستم د تش په نوم د علّي سرقوماندانی په معاونیت وغولوي او په دې ډول کندهار، هرات او شبرغان
د دوی له خپل سریو وژغوري.
دغو جګړهمارانو په خپلو اړونده ولایتونو کي ځانونه خپلواک پاچاهان بلل، نوموړو جنګسالارانو د مرکزي حکومت،
په ځانګړي توګه د ولسمشر کرزي پروړاندي موازي حکومتونه جوړ کړي وو، د امریکایانو په ملاتړ سربېره په مرکزي
حکومت کي د جمعیت د دلي غړو له لوري یې هم ملاتړ کیده، په افغانستان کي د امریکایانو همدا ناوړه پالیسي وه چي
په ولایتونو کي له داسي جنایتکارانو چي نیم عمر یې د افغانانو په وژلو، لوټلو او د افغانستان په ورانولو کي تېر کړی
ؤ، د ځواکونو جزیري جوړي کړې او پر وړاندي یې له مرکزي حکومت څخه تش بوتل جوړ کړ.
امریکایي سیاستوال او پوځیان په دې نه پوهیدل چي که په افغانستان کي مرکزي دولت پیاوړی نه وي د جمهوریت
نسکوریدل حتمي دي نو کله چي مرکزي حکومت له منځه ځي، په ولایتونو کي به ټول جنګسالاران چي امریکایانو تکیه
پري کوله پخپله له منځه ولاړ شي چي همداسي وشول.
دا وو د امریکایانو له خوا د جنګسالارانو او جهادي قوماندانانو د حمایي په اړه مالومات چي د بېلګي په توګه وړاندي
شول چي تر پایه مرکزي حکومت د دوی له لاسه ځواکمن نه شو او د جمهوریت د له منځه تللو یو اړخ همدا جنګسالاران
او له هغوی څخه د امریکایانو ملاتړ ؤ.
په پای کي جنګسالارانو ته چي هم یې ځانونه وشرمول او هم یې خپل باداران، د مرحوم مولوي محمد یونس خالص
لاندې مشهور شعر ډالی کوم:

## کوڅه ډب

شیطـان ترینه جوړیږي چي انسان شـي کوڅه ډب
یـاران شي تـرې بې زاره چي یـاران شي کوڅه ډب

نن دلته، سبا هلته، کله سم او کله کوږ شـي
سم جوړ شـي منـافق چي مسلمان شـي کوڅه ډب

نوکر د استعمار شي، خپل ملت په نـورو پلـوري
د کوم هـیواد چي پـوه ملي ځوانـان شـي کـوڅه ډب

وبـا شـي قام کي ګډه، د ژونـدون بـیـرۍ چپـه شـي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د چا چې ملایا ن او واعظان شي کسوڅه ډب
وطن سا تلی نشي په چوکۍ چې کړي جنګونه
ګیدړې ترینه ښې دي چې زمریان شي کوڅه ډب

د هرې کوڅې سپی شي، د هرچا ډول ته به ناڅي

ځان پلورې په پیسو چې ماموران شي کوڅه ډب

پرون یې د خلقیانو، نن زمونږه مداحي کړي
چې کله شرمیدلي شاعران شي کوڅه ډب

وجدان ترې کډه واخلي، لیاقت یې رزالت شي
کم سیالو نه کم سیال شي چې سیالان شي کوڅه ډب

خالصه خیردې غواړه چې شپې ورځې دې ترخیږي
**که غله شي مجاهد، او رهبران شي کوڅه ډب**

نېټه: ۱۴۰۲/۶/۱۱ل. ل

**پای**

د لیکوال: آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ